## د مقام د دفتر ریاست
## د اطلاعاتو او عامه اړیکوآمریت
## مطبوعاتی اعلامیه

کابل – افغانستان 28/ 1393/2

### د مخابراتو او معلوماتی ټولنې د نړیوالې ورځ لمانځغونډه

د مخابراتو او معلوماتي ټولنې نړیوالې ورځ (د می میاشت اوولسم) چې سږ کال براډبانډ د تل پاتي پرمختګ لپاره د شعار لاندې په ټوله نړۍ کې لمانځل کیږي، چې د مخابراتي او انټرنیټي ښېګڼو خدمتونو په پرمختګ کې یو اړین ګام شمیرل کیږي.
د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د هیواد د مخابراتي سکتور لپاره یوه جامع او اړینه پالیسی طرحه او پرلار اچولې ده. دیادې پالیسي عمده موخه او هدف د خصوصي پانګونې پرمټ هیوادوالو ته د ښو، باکیفیته او ښېګڼو مخابراتي او انټرنیټي خدمتونو په مناسبه بیه عرضه کول دي، دمخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت سالمه رهبري، د کارمندانو نه ستړې کیدونکې هلې ځلې او ذکرشوې پالیسي ددې باعث شوه چې په ډیر کم وخت کې نه یوازې د هیوادوالو د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ اړوند اساسي ستونزې حل شوې بلکه د هیوادوالو د ژوند سطح له اقتصادي او اجتماعي پلوه ډیره اوچته او معیاري شویده، چې یاده لاسته راوړنه د هیواد په تاریخ کې بې سارې ده.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په تیره یوه لسیزه کې برسیره پر یاده پالیسي د تلیفون پنځه خصوصي شرکتونو ته د **GSM - 3G**، ملي جوازونه، یو د **CDMA** محلي جواز او56 د انټرنیټي خدمتونو د عرضه کولو جوازونه ورکړیدي چې له دې جملې څخه 3 شرکتونه د **WiMAX** خدمتونه عرضه کوي، همدارنګه د زیربنائی پروژو د پرمختګ لپاره مهم فعالیتونه لکه د مزې لرونکي تلیفون، **DSL** ، مایکروویف، سټلایټ او د نوري فایبر ملی شبکه د هیواد د لویو لارو په اوږدو کې بشپړشویده چې د لویو ولایتونو له مرکزونو څخه تیریږي او افغانستان یې له ګاونډیو هیوادونو سره وصل کړیدی اوعملاً فعالیت کوي، همدا راز د یوې لسیزې په موده کې یولړ نور مهم ملی خدمتونو په برخه کې چې د افغان ست ۱مخابراتی سپوږمکۍ ځای پرځای کول، د ډیجیټل ټلویزیوني خپرونو سیستم او الکټرونیکي پیژند پاڼو جوړولو څخه عبارت دي په بریالیتوب سره تر سره کړی.

د مخابراتو په سکتور کې د پام وړ خصوصي پانګونه شویده چې له نیکه مرغه په یاد سکتور کې یې د سالم رقابت زمینه برابره کړیده. قانون او د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت اړوند د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداري له امله په هیواد کې یو قانوني محیط را منځ ته شویدی، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجي اساسی خدمتونو دولتي ادارو وزارتخانواو ولایاتو ته پراختیا موندلې او نور ټول سکتورونه لکه معارف، لوړې زده کړې، عامه صحت، اقتصاد او سوداګرۍ په برخو کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ پرمټ ډیر مثبت بدلون راغلی دی او فاصلې یې له منځه وړیدي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د مخابراتي سکتور د پرمختګ لپاره روښانه لیدلوری لري او پوهیږي چې نننی عصر د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ عصر دی چې ذکرشوی سکتور په نړیواله کچه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ په ډګر کې د صحی، روزنیزو، سوداګرۍ او د اړیکو د ټینګولو په موخه ډیر اړین دی او د براډبانډ بنسټیز خدمتونه د تل پاتي او پایداره پرمختګ لپاره یوه مهمه او ضروري اړتیاده، نو له دې امله د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت ژمن دی او همیشه هڅه کوي چې د براډبانډ یادو خدمتونو ته لا زمینه برابره کړي، او همیشه له مقرراتي، ټکنالوجیک او په هیواد کې له عامه او خصوصي پانګونې څخه ملاتړ وکړي.

په درناوی